د افغانستان اسلامي امارت

د اقتصادي چارو کمېسیون

د افغانستان اسلامي امارت

د اقتصادي چارو کمېسیون

(۵) مه مصوبه

د ۱۴۴۴هـ.ق کال د جمادي الثاني ۱۱مه

د ۱۴۰۱هـ.ش کال د مرغومي ۱۴مه

---

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال پنځمه غونډه، چهارشنبه د جمادي الثاني ۱۱مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د مرغومي ۱۴ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرینه ماڼۍ کې د عظیم‌الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون رئیس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** د لغمان والي د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله دفتر ته په هغه ولایت کې د شاهي کانال د جوړولو وړاندیز کړی دی. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله یې په اړه اقتصادي کمېسیون ته داسې هدایت کړی دی: «د پېشنهاد د متن د غوښتنې په هکله غور وکړئ او خپل نظر له موږ سره شریک کړئ.»

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د زمینداور کانال پروژې ته ټاکل شوې کمېټه دې، په دې تفکیک سره چې مشري به یې د اوبو او انرژۍ وزارت لخوا کېږي، د لغمان شاهي کانال په اړه تخنیکي او مالي څېړنه وکړي او خپل راپور دې له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي. اقتصادي کمېسیون به د راپور په اړه وروسته تصمیم نیسي. | ټاکل شوې کمېټه | عاجل |

**دویمه موضوع:** د کندهار ولایت درمل جوړولو اتحادیې د غوښتنې او دغه راز د یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله هدایت صادر کړی دی.

په ورته وخت کې د افغانستان خوړو او درملو ادارې په کندهار، ننگرهار، هرات او بلخ کې د خپلو لابراتوارونو د فعالولو لپاره د بودجې غوښتنه کړې ده. د ریاست الوزراء عالي مقام د موضوع په اړه د اقتصادي کمېسیون نظر غوښتی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | د مالیې وزارت په مشرۍ، د کندهار، ننگرهار، هرات او بلخ ولایتونو په شمول، د افغانستان په هر اړین بندر کې دې د خوړو، درملو، نفتي توکو، ساختماني او نورو موادو د ټېسټ په موخه د ټېسټ واحد کمپلکس جوړ شي او هره اړونده اداره دې په دغه کمپلکس کې خپل لابراتوارونه فعال کړي. د یادو کمپلکسونو د ودانیزو چارو د ترسره کولو او د ټیستونو د اجراء کولو عملیاتي چارې دې خصوصي شرکتونو ته د عامه-خصوصي مشارکت له لارې په اوږدمهالو قراردادونو ورکړل شي.<br>د یادې چارې تر بشپړېدو دې د خوړو او درملو د ټېسټ چارې د خوړو او | د مالیې وزارت، د خوړو او درملو ملي اداره او نور اړوند وزارتونه | اجرآتو په کتو |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

| | | | |
|---|---|---|---|
| | درملو اداري لخوا د پخوا په شان پر مخ یوړل شي.<br>د خوړو او درملو اداره دې په ښارونو کې د خوړو او درملو د ټیست په موخه د خوړو د ۸ او د درملو د ۴ لابراتوارونو قراردادونه خصوصي شرکتونو ته د داوطلبی لپاره وړاندې کړي. | | |

**دریيمه موضوع:** د ګمرکي محصول د لوړېدا په اړه د مشرتابه عالي مقام داسې هدایت کړی دی: «د اقتصادي معاونیت ستر سلاکار حاجي محمد ابراهیم حکمت دې دا موضوع وڅېړي.»

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | حاجي محمد ابراهیم حکمت دې د اقتصادي معاونیت په استازولی د مالیې وزارت د تعرفو کمېټې په مجالسو کې ګډون وکړي او د ري اکسپورټ او نورو مالونو اړوند د ګمرکي محصولونو په لوړولو او ټیټولو کې خپل بحثونه او مشورې ولري. په کمېټه کې هر غړی وزارت او عایداتي اداره مکلفه ده چې یادې کمېټې ته د تېر کال د ربعوارو راپورونو په تناسب، د خپلو عوایدو د ډېروالي او کمښت اړوند علتونه شریک کړي او د عیني دلایلو پر اساس دې د ګمرکي تعرفو په لوړوالي او ټیټوالي کې پر ځای او معقول تصمیم و نیول شي. | اقتصادي معاونیت، د مالیې وزارت | عاجل |

**څلورمه موضوع:** د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په اړه درې موضوعات د بحث او پرېکړې وړ دي:

الف: د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په مرکز او ولایتونو کې د خپلو لابراتوارونو د فعالولو په موخه د درملو او تجهیزاتو د برابرولو لپاره د بودجې د اجراء غوښتنه کړې ده. د ریاست الوزراء عالي مقام د موضوع په اړه د اقتصادي کمېسیون نظر غوښتی دی.

ب: کابینې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د وړاندیزونو په اړه اقتصادي کمېسیون ته دوه دندې سپارلې دي:

۱. د نباتاتو د قرنطین او روغتیا ساتنې کمېټې پر پرېکړو دې غور وکړي او پایله دې د کابینې غونډې ته وړاندې کړي؛

۲. د میوو، سبو او نورو کرنیزو پیداوارو د ساتلو په موخه دې د سړو خونو د جوړولو او خصوصي سکټور ته د ګټې اخیستو لپاره د دغو خونو د سپارلو طرحه برابره کړي او د پرېکړې لپاره دې د کابینې غونډې ته وړاندې کړي.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت لابراتوارونه دې په بنادرو کې د جوړېدونکو کمپلکسونو په جوړښت کې په نظر کې ونیول شي.<br>د میوو، سبو او نورو کرنیزو پیداوارو د ساتلو په اړه د سړو خونو اړوند د کابینې د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د جمادي الثاني د نهمې نېټې دا پرېکړه «په هېواد کې د سړو خونو د بیا رغونې او فعالولو په اړه د اقتصاد وزارت له لوري چمتو شوي راپور کې لیکل شوي وړاندیزونه تائید دي؛ د اقتصاد، مالیې، صنعت او سوداګرۍ او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونه او نور اړوند | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | اجراآتو ته په کتو |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ارګانونه دې د یاد راپور د وړاندیزونو پر بنسټ اړینې کړنې ترسره کړي.» دې عملي شي. | | |

**پنځمه موضوع:** د هبواد پر طبیعي منابعو په تمرکز سره د اساسي درملو د تولید د پراختیا طرحه. کابینې د دغې طرحې په اړه د اقتصادي کمېسیون نظر غوښتی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | ابن سینا دولتي شرکت دې خپله طرحه له مالیې وزارت سره شریکه کړي. د مالیې وزارت دې د یاد شرکت طرحه له دولتي بانکونو سره شریکه کړي او د اسلامي بانکدارۍ د اصولو په رڼا کې دې د یوه بانک مالي ملاتړ ترلاسه کړي. | د مالیې وزارت، ابن سینا دولتي شرکت | عاجل |

**شپږمه موضوع:** د اوبو او انرژۍ وزارت دوه هوکړه لیکونه د منظورۍ لپاره رااستولي دي:

۱.له چیني شرکت (یلو ربور) سره په شبرغان کې د ۳۰۰ مېګا واټه ګازي برېښنا فابریکې د جوړولو هوکړه لیک؛

۲.له(۷۷) ترکي شرکت سره د سروبي ۲ برېښنا بند د جوړولو هوکړه لیک.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ٦ | له یلو ربور چیني او ۷۷ ترکي شرکتونو سره د هوکړه لیکونو موضوع تایید ده. یاد شرکتونه دې پر دې مکلف شي چې د پروژو په اړه لومړی په اړوندو سیمو کې خپلې سروې ګانې او مطالعات بشپړ کړي؛ البته، یادې سروې ګانې او مطالعات به بلاعوضه وي او اسلامي امارت به د یادو شرکتونو پر وړاندې کوم مالي مکلفیت نلري. همزمان، د کانونو او پترولیم وزارت دې په جوزجان ولایت کې د یلو ربور چیني شرکت د پروژې اړوند د ګازو د ذخیرو د کفایت په اړه اطمینان حاصل کړي. د یادو چارو له بشپړېدو وروسته دې د اوبو او انرژۍ وزارت د یادو شرکتونو قراردادونه د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | د اوبو او انرژۍ وزارت | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

**اوومه موضوع:** کابینې اقتصادي کمېسیون ته دنده سپارلې ده چې د بوستان سبز فابریکې فعالیتونه وڅېړي او په دې اړه خپل نظریات د کابینې غونډې ته وړاندې کړي.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۷ | د اقتصادي معاونیت د استازي په ملتیا دې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په مشرۍ د اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ او مالیې وزارتونو او د صنعت او معدن خونې د استازیو، یو هیئت جوړ شي چې بوستان سبز فابریکه له نږدې وګوري او خپل رپوټ له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي. | تاکل شوی پلاوی | عاجل |

**اتمه موضوع:** د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ تاسیس.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۸ | د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د ایجاد موضوع په اصل کې تایید ده. د یاد بورډ د ایجاد طرحه دې د اقتصادي کمېسیون له غړیو سره شریکه شي او هغوی که د بورډ د ایجاد د طرحې او همدارنګه د هغه د ترکیب په اړه نظریات او وړاندیزونه لري، هغه دې د اقتصادي کمېسیون له دارالانشاء سره شریک کړي. | اقتصادي معاونیت، د اقتصادي کمېسیون غړي | عاجل |